الله تعالى په مؤمن باندې په نيکۍ کې ظلم نه کوي، په دنيا کې پرې بدله ورکوي او په آخرت کې پرې هم بدله ورکوي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «الله تعالى په مؤمن باندې په نيکۍ کې ظلم نه کوي، په دنيا کې پرې بدله ورکوي او په آخرت کې پرې هم بدله ورکوي ، او کافر ته په هغې نيکۍ سره خواړه ورکوي چې په دې دنيا کې يې د الله لپاره کړي وي، تر دې چې کله آخرت ته لاړ شي، نو داسې کوم نيک عمل به نه لري چې بدله يې ورکړل شي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په مومنانو باندې د الله تعالى فضل او کافرانو سره د هغه د عدالت لويي څرګندوي. د مؤمن لپاره د هغه د نيک عمل اجر نه کميږي؛ بلکې هغه ته په دنيا کې هم د هغه د اطاعت په بدل کې نيکي ورکول کيږي، د هغې بدلې سربيره چې په آخرت کې ورته ذخيره کيږي؛ او کېدای شي چې ټوله بدله ورته د آخرت لپاره وساتل شي. او کافر چې دی، نو هغه ته الله تعالى په دنيا کې د هغه د نېکو اعمالو په بدل کې بدله ورکوي، تر دې چې کله آخرت ته لاړ شي نو ثواب به نه لري چې بدله يې ورکړل شي؛ ځکه هغه نېک عمل چې خاوند ته يې په دنيا او آخرت کې ګټه رسوي شرط يې دا دی چې کوونکی به يې مؤمن وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65015

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee